کارکنان روزنامه شهادت:

میلاد فرخنده حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) را به فرد، فرد مردم مسلمان افغانستان وکافه امت اسلامی ،تبریک وتهنیت میگویند

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

باوجود پیشکش نمودن کرسي وزارت داخله :

عبدالبصیرخالد ازادامه همکاری درعملیات جنگی اداره کابل، خودداري نمود

کابل - ١٥ اسد :

طبق اخبار رسیده ازکابل عبدالبصیرخالد امیرجهاد جمعیت اسلامي دربدخشان درمخالفت به دوام جنگ اداره کابل، دوباره به یفتل بدخشان رفته است .

دریك خبردیگرکه تاحال تصدیق نشده اضافه شده کــه اداره کابل به عبدالبصیرخالد پیشنهاد قبول کرسي وزارت داخله رانموده بودولي وي وزارتي را که اورابجنگ مجبورسازد وتحت فرمان شوراي نظار باشد، قبولدار نشده است.

عبدالبصیر گفته است که تاحال (٥٠٠) نفر را درجنگهاي سالنگ وقندز ازدست داده اند ودیگرمردم حاضرنیستند که پسران شانرا درجنگ هاي توسعه طلبانه شوراي نظار قرباني نمایند، بصیر خالد احمدشاه مسعود را متهم کرده که افراد بدخشي را درخطوط اول جبهه میفرستد وافراد وابسته بخودراحتي الوسع ازمعرکه جنگ دورنگهمیدارد .

مولوي عبدالباقي ترکستاني :

په شمالي سالنگ،دبامیانوپه شش پل، او دبادغیس ولایت مرکزخیرمه کی جنگونه روان دی

اسلام آباد - دزمري ١٦ مه :

په شمالي سالنگ، دبامیانوپه شش پل اودبادغیس ولایت مرکزقلعه نوسره نیږدي سیمو کي دهماهنگي عالي شورا دځواکونو اودکابل داداري جګړه مارو ترمینځ جنګونه روان دي .

داخبري دجنبش ملي اسلامي ویاند جناب مولوي عبدالباقي ترکستاني دیوې مرکې په ترځ کې وکړي .

هغه وویل چي دهماهنگي عالي شورا ځواکونوپه دغوجنګونو کي دپرزیات پرمختګ کړي اوتیره شپه ، پرون اونن دکابل داداري دجګړه مارو پرسنګرونو ددرندو وسلو ډزي رواني وي چي دهغې په ترځ کي دهغوي زیاتي سیمي او مستحکم سنګرونه ویجاړشوي دي .

مولوي ترکستاني وویل : چي دکابل داداري جنګي الوتکو نن په شمالي سالنګ کي دهماهنګي عالي شورا پرمرکزونوبمباري کړي چي کوم ځاني تلفات ئي نه درلود .

شمارهٔ مسلسل (٩٧٠) سال هژدهم ،شمارهٔ (٥٦) سه شنبه (١٧) اسد ١٣٧٤ هـ ش (١٢) ربیع الاول ١٤١٥ هـ ق (٨) اگست ١٩٩٥ م قیمت (٢٠٠) افغانی (٢ روپیه)

دارشاد اوفرهنگ رئیس استاد قریب الرحمن "سعید" دشهادت له خبریال سره په مرکه کي :

په افغانستان کی دسولی اوامنیت دټینګښت لپاره یو منتخب او اسلامی حکومت ضروری دی

دحزب اسلامی افغانستان دارشاداوفرهنگ رئیس استاذ قریب الرحمن «سعید»، افغانستان ته دپاکستان دبهرنیوچارو وزیرسردارآصف احمد علي دسفرپه هکله وویل:

کابل اودافغانستان نورو ولایاتوته دپاکستان دبهرنیو چارو دوزیر سفر دپاکستان پــه خارجي سیاست پوري مربوط خبره ده .

په هرصورت پاکستان دافغانستان دګاونډي هیواد په حیث دافغانستان دبحران په حل کي غواړي فعال رول ولري خو په دي برخه کي به دسردارآصف په سفر څه خاصه نتیجه مرتب نشي اوعلت یي هم دادي چي پــه کابل کــي دسردارآصف احمدعلي او د کابل دواکمنوترمینځ په خبرواترو کي دسولي پروسي ته کومه اشاره نده شوي اونه په خپله سردارآصف علي پدي هکله څه اظهارکړي.

هغه څه چي لدي مذاکراتونه مخي ته راغلي هغه بوازي دعشق آبادنه پاکستان ته دافغانستان له لاري دګازو دپایپ لاین تیرول دي .

اوهمدارنګه دازبکستان، تاجکستان ، کابل اواسلام آباد ترمینځ خبري اتري دي پداسي حال کي چي دکابل اداره بوازي دکابل په ټول ولایت هم حاکم نده ، غواړي دکابل ټاریوخل بیا میلمه پال وګرځوي ترڅوددي لاري بین المللي کریډت اواعتماد ترلاسه کړي پدي هکله زموږ موقف واضح دي ، موږپه افغانستان کي دسولي اوامنیت دراوستلو په خاطر واضح تګلاره لرو، دهماهنګي شورا اعلان کړي چي په هیواد کي به غیرمنتخب اوغیراسلامي رژیم ونه منی .

که چیري دکابل اوسنیو مسئولینو دمسئولیت احساس کړي وای اوددخیلوجهادي تنظیمونو اواړوندو خواوو سره یې په هیوادکي دسولي اوآرامتیا دراوستلو اواسلامي حکومت دقیام لپاره یوه متفقه لایحه عمل اختیارکړي وای ، دریم مخ

میجر مست گل فرمانده مشهور جهاد کشمیر

درپشتیبانی ازجهاد کشمیر مردم سرحد ازمردم پنجاب عقب افتاده اند

پشاور - ١٦ اسد :

بعدازظهر روزدوشنبه ١٤ اسد تعداد زیادي ازمردم و بخصوص هواداران جماعت اسلامي پاکستان درامتداد جاده جي تي روډ ازورود میجر مست گل خان قرمانده مجاهدین که درکشمیر به شهرت ومحبوبیت رسیده ، استقبال مینمودند .

میجرمست گل خان که به هیرو وقهرمان چرارشریف معروف شده عین شکل وصورت قوماندانهاي مجاهدین افغانستان رادارد . میجر در بدرقه رهبران جماعت اسلامي ودرمیان شورواحساسات مردم از نزدیکي شهرپشاور الي پارك جناح که در مقر شهرواقع است پذیرایي گردید ، واین درحالي بود که به لحاظ ازدحام ، ترافیك دریك قسمت جاده متوقف شده بود .

درجلسه منعقده جناح پارك که براي سخنراني قاضي حسین احمد ومیجرمست گل ترتیب گردیده بود ، جمعیت زیادي گرد آمده بودند . پس از سپري شدن برنامه مقدماتي جلسه ،میجرمست گل وارد صفه پذیرایی وتخت سخنراني شد . دراینحال نمایندگان قبایل برسم قدیم وبه اداي احترام به میجر، به سرفرمانده مجاهدستارافزازي گذاشتند .

میجرمست گل درسخنراني خود که بالهجه تقریباً عامیانه صحبت میکرد گفت: مردم پنجاب درجهاد کشمیر برمردم کشمیر سبقت گرفته اند واین جاي افسوس

ص (٣)

بنام خالیکه بی اندازه مهربان ونهایت بارحم است

سرمقاله

ومارسلناك الا رحمة اللعالمین

محمدی انقلاب

له نن نه ١٤١٦ کاله دمخه الله (ج) حضرت محمد رسول الله په عالمیانو باندی دخپل خاص رحمت په توګه نړی ته رالیږلی .

دجناب محمد رسول الله مبارك میلاد اساساً دبشریت په تاریخ کښی نوی باب پرانستل شو ،دهغوی میلاد دبشریت دنجات ، سعادت ، فلاح ، رستګاری اوعافیت لپاره مقدمه شوه .

هغوی ته دانسان اوانسانیت دلارښوونی دسترماموریت پیټی ور په غاړه شو ، او په هغه متانت یی چی الله ور په برخه کړی و ،دغه دروند پیټی خپل سرمنزل ته ورساوه .

محمد رسول الله انسانیت له بدبختیو ، معصیت اوطغیان نه و ژغوره اوپه خپل نوربی دانسان له ژوند نه تیاری اوظلمتونه لری کړل.

حضرت محمد دانسان په ژوند کښی یوانقلاب را منځ ته کړ ، داسی انقلاب چی دبشریه تاریخ کښی یی نه دمخه مثال و او نه به وروسته له دی پیدا شی .

محمدی انقلاب هغه بشری ټولنه چی اساس یی په جهالت ، استبداد او استکبار ولاړ و ، بالکل ونړوله او دهغی په ځای یی دداسی یوی ټولنی بنسټ کیښود.چی دجهالت ځای په کښی معرفت ، داستبداد ځای پکښی عدالت او داستکبار ځای پکښی ورورګلوی ونیو.

محمدی انقلاب له یوی خوا انسان ته د(اخوت) عطوفت ،سولی او سلم پیغام راوړ ، له بلی خوایی انسان ته دقیام او پاڅون درس عملی درس او نه هیریدونکی درس ورکړ. په محمدی انقلاب کښی انسان ته وښودل شول چی له یوی خوا له مستضعف انسان سره غمرازی ، همدردی ، مرسته اوهمکاری وکړی ، له بلی خوا یی دهغه زمن کړل چی د استبداد اواستکبار په مقابل کی قیام وکړی ، ورسره مبارزه وکړی، ورسره جهاد وکړی او تر هغه وخته یی مقابل پاڅون ته دوام ورکړی ترڅو یی له نړی نه د استبداد استکبار تغر نه وی ټول کړی.

کله چی مسلمان دمحمدی انقلاب ددغه عملی درس په خلاف استبداد اواستکبار ته غاړه پټه کړی ،خوار شوی ، تحقیر شوی ،ذلیل شوی او په سترو سترو مصیبتونواخته شوی دی.

نن سبا په نړی کښی د مسلمانانو وضع ددغی دعا ښه مصداق دی، دنړی په هرګوټ کښی مسلمان ضعیف ، توهین ، تحقیر او ذلیل دی، داځکه چی دمحمدی انقلاب دعملی درس پرخلاف یی استبداد استکبار ته تن ورکړی، اوله جهاد نه یی لاس اخیستی دی.

مسلمانانو په نړی کښی داسلام دطلوع له وخت نه زمونږ تروخته پوری دبرم اوشوکت په لحاظ مختلفی دوری تیری کړی دی، کله یی چی داسلامی یا محمدی انقلاب داساساتو رعایت کړی ، جهاد اومبارزه یی کړی اوده ظلم اواستبداد په مقابل کښی دریدلی دی، په نړی کی یی دسرلوړی ، سعادت او له برم اوشوکت نه ډك ژوند کړی دی.

خو کله چی له جهاد اومبارزی نه لاس په سرشوی ، دنن په شان یی پته شوی او دنورو غلامان شوی دی.

حقیقت دادی چی دمسلمان عزت دمحمدی انقلاب په دوام کښی دی . که مسلمانان غواړی چی خپل هغه برم اوشوکت ته بیاورسیږی چی داسلام دطلوع په وخت کښي داسلامی ټولنی په برخه شوی و . په اخلاص اوصداقت دی ، دخپل ټبراوخال په ښیندلو محمدی انقلاب ته دوام او توسعه ورکړی . که نه نو تر ابده به یی دنورودغلامی، حلقه په غوږ کښي وی او له ذلت نه به خلاص نشی.

قوماندان مشهور "ملاتانک" باهزارنفرمسلح، باشورای هماهنگی پیوست

مرغاب - ١٥ اسد.

تمامی مجاهدین وقوماندانان سه ولسوالی ولایت فاریاب وبادغیس بانیروهای شورای عالی هماهنگی یکجا شدند.

گزارش های رسیده از ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس حاکیست که قوماندان ملا گلبدین که به ملاتانك شهرت دارد روز گذشته با هزار نفر از مجاهد خود با نیروهای شورای عالی هماهنگی یکجا شد.

ملاتانك طی سخنانی گفته است که به رغبت خود برضد اسمعیل خان قیام نمودم وبا نیروهای شورای عالی هماهنگی یکجا شدم .

وی اظهار داشته است از اینکه اداره کابل غیر قانونی بوده از پشتیبانی ملت برخوردار نمیباشد و عامل ادامه جنگ درهمه نقاط افغانستان میباشد ، از اثر اختیار نمودن موقف لجوجانه که جنگ یاملت میباشد از سه سال به اینطرف هزاران تن از هموطنان بیگناه ما به شهادت رسیده اند، تصمیم گرفتم که متحد درکنار نیروهای شورای عالی هماهنگی بوده ودرسرنگونی حکومت غیر قانونی ربانی سهم گرفته باشم .

افراد اداره کابل درحال عقب نشینی ازولایت بادغیس میباشند

ولسوالی بالا مرغاب ولایت بادغیس از بیست روز به اینطرف چندین بار ازطرف طیارات اداره کابل بی رحمانه بمباران شده.

گزارش های رسیده ازآن ولایت حاکیست ... نیروهای شورای عالی هماهنگی عملیات تصفیوی را در آن ولایت آغاز نموده و افراد اسمعیل خان درحال گریز ازآن ولایت میباشند .

قرارگزارش قوماندان نظامی خط اول شورای عالی هماهنگی گفت :نیروهای ما حال درولسوالی جدید التشکیل سنگ آتش میباشند که درچهار ده کیلومتری مرکز ولایت بادغیس (قلعه نو) موقعیت دارد ، وی گفت طیارات جنگی اداره کابل همه روزه چندین بار مواضع نیروهای ما را بمباران میکنند وعلاوه بر آن نیروهای سلاح خفیف وثقیل میان نیروهای شورای عالی هماهنگی وجنگجویان اسمعیل خان جریان دارد وطی دو روز درگیری پنجاویك نفر از جنگجویان اسمعیل خان اسیر گردیده اند که آنها به میمنه مرکز ولایت فاریاب انتقال داده شده اند،یکی از اسرا غلام ربانی ولد غلام سخی ساکن ناحیه دوم ولایت هرات

ص (٣)

په نصرت مینه کي دسلګونو زده کونکو په ګوون :

دافغانستان داسلامی پوهنتون دکانکور ازموینه واخیستل شوه

پیښور - نصرت مینه - دزمري ١٥ مه :

تیره ورځ (یکشنبه) دنصرت میني په جامع جومات کي دافغانستان داسلامي پوهنتون دځلورو پوهنځیو لپاره دکانکورازموینه واخستل شوه . دشهادت خبریال له نصرت میني څخه رپوټ ورکوي چي دکانکورازموینه دنصرت میني په جامع جومات کي دورځي په ٨:٣٠ بجو دمحترم قاضي غلام محمد له خوادقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیاتونه تلاوت پیل شوه .

خبریال لیکي : سږکال (٦٢٠) تنو داسلامي پوهنتون دځلوروپوهنځیودطب ، انجنیري ، زراعت اوسیاسي علومو له پاره نومونه ثبت کړي وو .

داسلامي پوهنتون یوتن مسئول دپوهنتون دچارو په اړوند زموږ خبریال ته دریم مخ

دافغانستان داسلامی پوهنتون دکانکورد ازموینی یوه ګوښه

طیاره الیانیا طرف شارجه روان بوده است

تفصیلات بیشتری درخصوص طیاره فرود آمده در قندهار منتشرگردید

قندهار - ١٤ اسد :

یك طیاره باربري وایلوشن (٧٦) متعلق به تاتارستان روسیه حامل مهمات نظامي درراه عزیمت به کابل، توسط طالبان درقندهار مجبوربه نشست شد .

ملامحمدعباس شاروال قندهارویکی ازسران طالبان مدعي است ، گرچه طیاره مذکور ازتیرانا پایتخت البانیا پروازنموده ودرشارجه (امارات متحده عربي) سوخت گیري نموده است امامهمات موجود درطیاره ساخت هند میباشد .

ملاعباس درگفتگوباخبرنگاران پاکستاني که روزشنبه همراه با آصف احمدعلي وزیرخارجه پاکستان وارد قندهار شده بودند علاوه نمودکه این حادثه دلیل خوبی است براي تثبیت ادعاي مامبني براینکه روسیه ،هندو ایران باحمایت ازحکومت رباني، درامورداخلي افغانستان مداخله مینمایند.

اخترمحمد قوماندان میدان هوایي قندهار به خبرنگارروزنامه نیوز اظهارداشته که یك فروند ازجت هاي نوع (میگ ١٩) باپیلوتي جیلاني ظهرروزپنجشنبه طیاره تاتاري را وادار به نشست اجباري درمیدان هوایي قندهار نمود .

وي علاوه کرد : دستگاه رادارروسي میدان هوایي قندهارکه درشعاع (٣٥٠) میلي طیارات دشمن را شناسایي می کند طیاره ایلوشن ٧٦ را زیرنظرداشت

ص (٣)

شایعه قطع شدن راه بامیان غلط میباشد

کاروان مواد غذایی حزب وحدت وارد بامیان شد

پشاور - ١٦ اسد :

اداره ائتلافي کابل امروزادعاکرد که درحوالي دره صوف نیروهاي شوراي هماهنگي رابه عقب نشیني واداشته وشاهراه عمومي دره صوف به بامیان ویکاولنگ راقطع نموده است .

خبرنگارشهادت براي دریافت خبرموثق بادفترحزب وحدت اسلامي درتماس شد . دفتر حزب وحدت گفت : شوراي نظار که به رهنمایي گروه اکبري واتوري قبلاً به ولایت بامیان متعرض شده وشکست بزرگي را متحمل شده بودند باوجود تلاش هاي مذبوحانه نتوانسته اند باردیگر سنگرهاي خودرا دربامیان وحومه آن محکم نمایند .

دفترنمایندگي گفت : شوراي نظار براي تقویت روحیه افراد خود مصروف جعلسازي است که یکي ازجعلیات پخش

ص(٤)

سخن روز

افغانستان ته د پاکستان دبهرنیو چارو دوزیرسفر !

د تیری پنجشنبی په ورځ دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر سردار آصف احمد علی کابل ته ولاړ.

آصف احمد علی پخوا غوښتل چی نوموړی سفر ترسره کړی خو دبیلا بیلو عواملو په وجه ځو ځله وځنډید ، .

کله چی دپخوانی پاچا ، زوم سردارولی پاکستان ته راغی نو په پیل کی داستاد ربانی اداری مسؤلین په دی برخه کی چوپ وو . اوهغو په دی طمع وو چی شاید مخالفین یی په دی برخه کی دحساسیت تونده موضع غوره کړی مګر دهغوی داطمع پوره نشوه او په همدی وجه یی خپل دریځ په دی توګه وښود چی دوی پاکستان ته دسردار ولی په بلنه او هرکلی خپه دی اوداګار دافغانستان په چارو کی یو ډول لاس وهنه او دسیاسی او دیپلوماتیکی نورمونو تر پښو لاندی کول ګڼی .

که څه هم دپاکستان بهرنیو چارو وزارت په دی باب داتوضیح خپره کړه چی سردار ولی پاکستان ته په رسمی توګه نه دی دعوت شوی ، هغه په خپله راغلی . پاکستان یواځی دومره کړی چی دهغه لپاره یی کوربه توب منلی دی.

خو دی توضیح بی باوری اوتریخوالی له منځه یو نه وړای شو. بلکی په اسلام آباد کی داستاد ربانی داداری مامورینو له پاکستان سره دخپلو اړیکو په برخه کی له شکونو ډکی او توندی څرګندونی وکړی ، ان تر دی چی په افغانستان کی یی دپاکستان په پرتله دهند نقش رغنده وګاڼه .

دی ټولو مسایلو له یوی خوا داحتمال دبحث ور ګرځاوه چی شاید کابل ته د پاکستان دبهرنیو چارو دوزیر سفر یو ځل بیا وځنډیږی خو دپاکستان حکومت حتماً علاقه درلوده چی دوی باید په اسانی پرینږدی چی بیلابیلو افغانی خواګونو ته ډیر زیات متنازعه فیه شی .

دوی په تیرو ۱۷ کلونو کی دافغانستان په قضایاوو کی ډیر مهم نقش درلودلی ، دا ور ته خامخا ډیره ګرانه ده چی په دی رابطه خپل اهمیت او افادیت له لاسه ورکړی.

دسردار آصف دسفر نیته چی را لنډه شوه داستاد ربانی له خولی داخبره هم خپره شوه چی "کله دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر کابل ته راغی ،زمونږ له خارجه وزیر سره به ګوری اوبیا به کتل کیږی چی دافغانستان نورو برخو ته دپاکستان دخارجه وزیر سفر ګټور دی او کنه ...

دی ټولو شیانو دسردارآصف دسفر راتلونکی بی خونده ښود ه ،

سردار آصف کابل ته تر روانیدو دمخه وویل چی دده هدف دادی چی هلته حالات وګوری اوبیا دملګروملتونو اواسلامی کنفرانس له هیئاتونو سره یو ځای کینی او دافغانستان دبحران په حل سوچ وکړی.

دنوموړی له دی خبرو داسی معلومیده چی ګنی دی دکابل اداری داحتجاج زیاته پروا نلری او له یوه مضبوط موقعیت نه عمل کوی. مګرکله چی کابل ته ورسید ، دا وضعه بی پاتی نه شوه .

او دنوموړی اداری دراضی کولولپاره ،هغی ته ځینی امتیازات ومنل – دا امتیازات یو داو چی له عشق آباد نه چی کوم پایپ لاین پاکستان ته راځی له افغانستان نه بی دتیریدو دعملیی خبری باید له کابل اداری سره ترسره شی او دوهم دا چی کابل د افغانستان ، پاکستان ، تاجکستان اوازبکستان ترمنځ دیوه څلور اړخیز کنفرانس میزبان شی.

استاد ربانی ددی امتیازاتو ترلاسه کول دخان لپاره لوی بری بولی ، ځکه هغه له مشروعیت ، اوقانونیت نه دبیخی بی برخیتوب له امله ددیرناوړه حقارت احساس کوی. هغه په ډیره تلوسه دی ته سترګی په لاروچی دکوم داسی خارجی هیئات کوربه شیٔ چې له دوی سره دیوی اداری په توګه معامله وکړی.

خوتر کومه چی داستاد ربانی اداری او پاکستان ترمنځ داړیکو په بښت پوری اړه لری ، دسردارآصف دسفر وتو په ځیر اقدامونه او یا کابل ته دامتیازونو ورکول پر هغه اغیزنشی غورځولای. ځکه چی مسکو او ډیلی دکابل اداری تر شاولاړ دی.

اوهغوی داحمد شاه مسعود او استاد ربانی " په رنګ اوخیرو نه دی مین او نه دهغوی تر شا دریدل په منطقه کی دکوم معقول هدف دساتلو یا ترلاسه کولو لپاره لازم ګڼی .

هند او روس نوموړی ښاغلی ددی لپاره حمایه کوی چی په افغانستان اومنطقه کی د دوی ځینو مشخصو اهدافو ته کار وکړی.

واقعیت دادی چی هغوی دهند او روس دملاتړ په بدله کی په خپلو اوږو دماموریت یو ډیټی احساسوی. داماموریت زمونږ دهیواد دنه دادی چی باید ټولی ژبنی او سمتی میلاتونه راوپاروی ،په همږ بنیادونو دجګړی اورته لمن ووهی ، جهاد بدنام کړی او افغانستان دجګړو اوبدمرغیو په برپوکیو کی ټوټه ټوټه کړی.

همدارنګه ددی ماموریت یوه مهمه برخه دافغانستان او پاکستان ترمنځ دوروولی ټینګ شوی تنابونه سستول او پری کول دی.

کابل اداره ددی لپاره چی دډیلی اومسکو مرستی جذب او هضم کړی ، باید دهغوی داهدافو په پوره کولو کی نقش ولوبوی او ددی نقش یوه برخه دپاکستانی او افغانی ورونو ملتونو ترمنځ یو ځل بیا ددښمنیو داوریلول دی.

مونږ ددی خبری کول لازم ګڼو چی پاکستان ته دافغانستان دیوه مهم او ورور ګاونډی هیواد په توګه پکار ده چی زمونږ دپیښو په باب دقیق هماهنګ او له عارضی موقتی او مقطعی رجحاناتو پاک سیاست غوره کړی . همداراز کابل اداری باید دا درک کړی چی ترڅو به دپردیو دمنفی اهدافو په پاللو اودپردیو درحم اوکرم په جلبولو کی خپله بقا لټوی . ترڅو به د اسلام ، جهاد اوخپل ملت له عظمت اوشوکت سره بی رحمانه لوبی کوی ، ترڅو به په خپله تنډه دجګړی ،وحشت اوجنایاتو داصلی عامل په توګه دپیغور ټاپی خوری.

دکابل اداری مسؤلین باید وپوهیږی چی هغوی باید له یوه ناوړه اوشرمناک انجام سره له مخامخ کیدو دمخه او تردی رومبی چی پری دومره ناوخته شی چی دیوه معقول ابتکار وروستی فرصت له لاسه ورکړی.داسلام اوجهاد ذوقارد درناوی لار ونیسی ، هغه لار چی انجام یی دټولو دحقوقو اوټولو دشرافت اوابرو خوندی کیدل او دملت او هیواد ژغورنه ده .

به مناسبت میلاد باسعادت ناجی عالم بشریت حضرت سرورکائنات

بعد از خدای بزرگ تویی قصه مختصر

سید جلال الدین

دوشنبه دوازدهم ربیع الاول سال ۵۷۰ میلادی روزتولد نور، روزخوشی ها وشادمانی ها ، روزمیلاد ودرخشش همه آرزوهای انسانی دردرازنای تاریخ ، روزیکه درسپیده دم آن امواج خروشان سحر گاهی وصبح آزادی برقله های جهل وبرده گی یورش می آورد وسرچشمه بهاریکه درآن سروانسانیت ونیکی قامت برمی افرازد . پایان حکمروائی شرک وبندگی وروزیست که منادی انسانیت ویکتاپرستی وآخرین مبشرتوحید چشم درین جهان میگشاید . وباتولد فرخنده خویش دژهای مستحکم متکبران وزورگویان قرن راباهمه معبدهای گمراه کننده وانحرافی شان واژگون نموده وهمه آن راباخاک برابرمیسازد .

بامیلاد مبارک سرورکائنات حضرت محمد مصطفی (ص) تغیربزرگی در جهان نمودارمیگردد ، نه تنها نقشه جهان راتغیرمیدهد بلکه تحولات بزرگ وچرخش عظیمی درجامعه انسانی به میان می آید ومقام انسانیت ارج ومنزلت عالی بخود گرفته به چیزهای دست می یابد که تاپایان تاریخ چنین تغیروتحول شگرف راهرگزنخواهد دید.

این تحول بزرگ رحمتی بود به همه انسان هاکه خداوند بحق آن را «رحمت عالمیان» نامیده ودرقرآن کریم وصفش راچنین خواند :

«ومارسلناک الا رحمة للعلمین »

حضرت پیامبراسلام تولد شد تابه انسان های مظلوم ودربند کشیده که قرن ها باراسارت وبنده گی رابه دوش می کشیدند، هدایتی باشد تاخویشتن رااززیرکوله بارظلم هاووحشت ها ، قساوت ها وشقاوت ها ، شرک ها وبت پرستی ها رذیلت ها واذیت ها نجات دهند وتولداوسرآغازانقلابی بودکه دیگرضجه وفریادآزاروشکنجه انسانیت مظلوم را که گردن هایشان بازنجیرها وغل به دردآمده وگوش شنوایی نداشت ، برای ابدشرزمین روح ومقام آدمی محو وخاموش ساخته

ویرهمه مفاهیم ظلم وجور، بندگی وبرده گی ، شرک وبت پرستی ها ، بی عدالتی هاوبی بندوباری ها پشت پابزند .

آری ! اوباتولدش به انسانیت آموخت تاتصورمعکوسی که فرعونیان نمرودیان ودژخیمان قرن ازمقام مقدس انسانی داشتند ازریشه واژگون نماید، وچون آفتاب جهانتابی درجهان پرازجهل نادانی ها وکدورت ها خوش درخشید وتعلیمات جاودانه اویه منزله یک انقلاب بزرگ وتکاملی درقاموس بشریت مظلوم تاروزقیامت پاینده وماندگارخواهدبود .

حضرت محمد(ص) مانند نورساطعی که ازروشنی ودرخشنده گی آن شرق وغرب ، شمال وجنوب منورگشت ، ازبطن بی بی آمنه دخترسردارینی زهره بن کلاب ، وهب بن عبدمناف بدنیا آمد ، اسم پدربزرگوارشان عبدالله است که درسن بیست وپنج سالگی باآمنه عقد ازدواج بست .

بی بی آمنه قبل ازولادت پیامبرشبی درخواب دید که ازوجود مبارکش نوری بیرون می آید که تامحلات شام راروشن میسازد واو (آمنه) نوزادمبارکش رااحمد نام گذاشت.

پدرپیامبراسلام قبل ازولادت باسعادت فرزند بزرگوارش دارفانی را وداع گفت وازمال ومتاع دنیا برای بیوه وفرزند مبارکش که تاآنوقت دررحم مادربود چیزی ازخود بجانگذاشت . درآنزمان اشراف وسرداران مکه راعادت برآن بودکه فرزندان شان رادرشیرخواره گی به مناطق صحرائی

می فرستادند تادرهوای آزاد تربیه شده وزبان عربی رابهتربیاموزند ، بدین منظورزنان قبایل همیشه به مکه می آمدندوکودکان راغرض شیرخواره گی که ازین ناحیه اجرتی نیزبدست می آوردند ، باخودمیبردند .

پس ازولادت باسعادت حضرت پیامبراسلام تعدادی اززنان قبیله هوازن به مکه آمدند بی بی حلیمه نیزباشوهرش راه مکه رادرپیش گرفت .

ابن هشام گفتاربی بی حلیمه راچنین نقل میکند : « منطقه، ماقحط زده وتسبت به دیگرزنان حالت ماسیارخراب بود شیرخودم آنقدرکم بود که کفاف فرزندم رانمی کرد . وقتیکه مابه مکه رسیدیم زنان دیگربه بردن رسول الله حاضرنبودند ومیگفتند که یتیم است ، معلوم نیست که ازمادریبوه وپدرکلانش چیزی نصیب ماميشود یانه .

زنان قبیله هرکدام بچه یی راباخودگرفتند وامابرای ما بچه یی پیدانشد همه به برگشت آماده شدند . برای شوهرم گفتم خوش ندارم که دست خالی برگردم . برویم وآن بچه یتیم رابرداریم . شوهرم گفت : درین کار مضایقه یی نیست ، شاید خداوند به وسیله آن به مابرکت عطاکند .

آن بچه ، یتیم راگرفتیم ، شیرم آنقدرزیادشد که حضرت محمد وعبدالله پسرم که همشیرپیامبربود هردوخوب سیرشدند ،شترماشیرکم میداد شیرش زیادشد که هردوی ماسیرشدیم وشب رابه

راحت خوابیدیم صبح شوهرم برایم گفت که حلیمه بخداقسم که بچه خیلی مبارک راگرفته یی!

بی بی حلیمه پس ازدوسال تربیت درعلاقه های صحرائی ، پیامبراکرم «صلی الله علیه وسلم »رابه مکه نزدمادرش آورد وبنا به اصراربی بی حلیمه ، حضرت پیامبر(صلی) دوسال دیگررا بامادروضاعی شان بسربردند .

آنحضرت شش ساله بود که مادرمبارک شان ازدنیارحلت فرمود ودرمقام ابوا مدفون گشتند .

زمان صلح حدیبه حضرت پیامبراسلام حینیکه ازمقام ابوا، میگذشت به زیارت قبروالده گرامی رفت وبی اختیارگریست ، سوال شد که یارسول الله شماازگریه مانع میشوید ، مگرخودتان می گریید ! فرمودند :

«ادرکتنی رحمتها فبکیت » مهربانی هایش یادم آمد ومراگریاند .پس ازرحلت مادربزرگوارش کفالت آنحضرت بدوش عبدالمطلب قرارگرفت . اوخاطرپیامبررا گرامی میداشت وازهیچگونه محبت وصمیمیت درمقابل آنحضرت مضایقه نمیکرد عبدالمطلب درسن هشت سالگی پیامبر، ازدارالفناء به دارالبقا رحلت کرد.

پس ازوی ، ابوطالب عهده دارکفالت آنحضرت گردیددرسن دوازده سالگی حضرت محمد «صلعم » باکاکایش غرض تجارت بسوی شام رفت وبارددوم برای فروش مال التجاره بی بی خدیجه (رض) باقافله

تجارتی قریش جانب شام رفت ودرسن بیست وپنج سالگی باموصوفه عقدنکاح بست .

آنحضرت «صلعم » درامانت داری آنقدرشهرت داشت که هرکس اورا«امین» خطاب میکرد وبهترین نمونه . آن قضیه تعمیرکعبه بود که قبایل برای گذاشتن حجرالاسود باهم درنزاع وکشمکش بودند ویه مجرد ورود سیدکائنات به مکه صدای «هذاامین » به هواپیچید واوبا تدبیرخاصی نزاع رافرونشاند که درین زمان عمرمبارک به سی وپنج سالگی میرسید .

همینکه به چهل سالگی رسید به پیغمبری مبعوث گشت وبانزول وحی توسط جبرئیل درغارحرا این امرآغازیافت وجبرئیل سه بار سینه اش رادرهم فشرد وکلمه «بخوان » رابرایش تکرارمیکرد ، ولی پیامبر می فرمود من خواندن نمیدانم جبریل گفت : اقرابِاسم ربک الذی خلق وتاعالم بعلم رسانید . همین بودکه بخانه آمد وبه همسرش خدیجة الکبری گفت که که :«مرابپیچان مرا بپیچان » بعدازآن تمام واقعه رابه خدیجه (رض) گفت . بعداً نزدورقه بن نوفل رفتند . واوپس ازشنیدن قصه گفت : «این همان ، فرشته وحی است که الله تعالی برموسی نازل کرده بود کاش من تاآنوقت زنده بمانم که قومت تراخارج میکنند » پس ازوحی اولی مدتی وحی نازل نگردید ، برپیامبربزرگواراسلام اندوه وغم طاری شد تااینکه روزی حضرت محمد«صلعم » ازآسمان آوازی شنید که جبرئیل برایش میگفت . «ای محمد (صلعم) یقیناتورسول الله هستی ومن جبریل هستم » که این دوره بنام فترة الوحی یادمیشود .

بانزول هفت آیه سورة مدثر، فترة الوحی ختم شد وپیامبربه مهبط وحی ماموورگردید وبرایش حکم داده شد که برخیزد واین فرض را اداکند . پیامبراسلام مدت سیزده سال متواتردرمحیط شرک

ص (۳)

داسلامی انقلاب په خلاف ، دروسانو اوهندوانو بربنډی لاس وهنی

ایلوشن (۷٦) په قندهار کی

مبصر

دتاتارستان دهوایي کرښي ایلوشن ۷٦ ډوله ترانسپورتي الوتکه څوورځي دمخه دطالبانوډغورځنګ لخوادقندهار په هوایي ډګرکي راښکته کیدو ته مجبورکړل شوه.

دطالبانو دنطاق په مطابق اودبین المللي خبرنګارانو دسترګو لیدلي ګواهي په اساس په دغه الوتکه کي په هندکي جوړشوي نظامي مواد باروچي غوښتل ئي دکابل نظامي هوائي دګربګرام ته یې ورسوي .

دنطاق دوینااله مخي دغه الوتکي دالبانیا دمرکز تیرانا څخه پرواز کړي چي بیائي په شارجه کي دوباره تیل اخستي، دالوتکي ۷ کسه عمله چي دطالبانو سره په قندهار کي ترتوقیف لاندي دي ،ټول روسان دي، دالوتکي پیلوټ چي خپل ځان ئي ولادیمیر معرفي کړي وایي چي دغه الوتکه داریستان دکمپني ملکیت دي چي دتاتاریستان په مرکز کازان کي مرکزیت لري اوبه شارجه کي دکابل داداري دیوه مامورعلي په واسطه کرایه شوي چي دالبانیا څخه کابل ته مواد انتقال کړي .

پیلوټ ددي خبري نه منکرشوي چي ګویادهند څخه ئي دنظامي موادو دانتقال له پاره کوم پرواز کړي خوویلي ئي دي چي دکابل دررژیم اودالبانیا ترمنځ تړونونه شوي چي نظامي مواد اووسله به دکابل رژیم له پاره رسوي .

دډیلي خوانه دکابل دواکمني اداري یودیپلومات په اسلام آباد کي ددغه ډول الوتکي دموجودیت نه انکارکړي اوداکارئي یواځي دطالبانوله اړخه بوپروپاګندګنلي دي ، همداراز دهرات «تولواک » اسماعیل خان هم دهماغه خبرنګارانو سره چي دغه طیاره اوبه هغه

کي بارنظامي موادئي په خپلوسترګولیدلي ، په خبروکي ددغه ډول الوتکي دموجودیت نه انکارکړي اوداخبره ئي یواځي بوپروپاګندي حربه ګڼلي چي دهغي په اصطلاح ددولت په خلاف کیږي .

که څه هم دکابل دائتلافي اداري په خلاف ددي اداري دهماغه لمړي ورځي اوحتي درامنځته کیدو څخه وروسته داپه واګه شوي چي ددي اداري دبقا او پایښت له پاره دروس اوهندوانوترځنګ ټول بین المللي استعمار کارکوي چي روسان ورته بي پښتواني افغاني نوټونه چاپوي اوکمونستو رژیمو په څیر ورته دشبرخان اوحیرتان دبندرونو څخه کاروانونه را روان دي تیل اونورنظامي مواد ورته دتاجکستان اوترکمنستان له لاروروسیږي اوهندوان ئي نه یواځي دافرادو په ترینګ اوتربیه کي ونډه اخلي بلکه دهغوي دثقیله وسایلو اوپه ځانګړي توګه دهوائي جهازونو اوټانکونو اضافي پرزي برابروي . دکابل دائتلافي اداري په اصطلاح لوړرتبه مامورین ټول دهندوانو په کاسه کي یوځاي ګوتي وهي اوداسي ورځ نه شته چي دهلي ددوي دقدمو ایښودل نه وي تحمیل کړي .

دکابل دررژیم اودهلي اړیکي هغه وخت ډیري ګرمي شوي چي دهماغه دعالي شورا ځواکونه او په ځانګړي توګه دحزب اسلامي قوتونو دکابل په زړه کي دموفقیت قدم کیښودوته ځان چمتوکاوه اودمسعود دسکتاریستي او ژبني متعصبي ولګي وارثي خطاکړ اوددوي بي مجبورکړل چي دارګ پرځاي په چتله اوبادخیرخاني مېني په تاخانوکي ځانونه خوندي وساتي . ان تردي چي دزیاتو وزارتونو کارونه ئي دخیرخاني لوري ته انتقال کړي .

هند چي د روسانو سره یوځاي دافغانستان دولس په تباهي کي شریک او تل ئي دافغان ولس څخه دروسي برغلګرفوځ دجغ دپورته کولو مخالفت کړي، اواوس پـه دي هڅه کي وچي دافغانستان داوسني کورني جنګ څخه چي هماغه دروسي استعمار اوکمونست رژیم څخه دراپاته مزدورانو په مقابل کي دافغان مؤمن ولس داصیلو زامنو په واسطه پیل شوي، ګټه پورته کړي اوهماغه لوري چي دهندګټي په کي خوندي پاته شي او په عین وخت کي خپل سیاسي اهداف ترلاسه کړي، تقویه کړي . په دي اساس ئي دمسعود دسکتاریستي ګروپ سره بي اندازي مرستي پیل کړي اوددي مرستو اندازه تردي حده پوري ورسیده چي دپاکستان حکومت ئي وارخطا کړ اوهند ته دکابل داداري دهوایي کرښي دجهازونو دتګ راتګ دمخنیوي په خاطرئي قدم پورته کړ چي دغه کار دکابل داداري اودپاکستان دحکومت ترمنځ اړیکي هم سره ولړزولي .

دمسعود اداري بالاخره هماغه پاکستان چـي دوي ئي دیوه سازش له مخي پـه ګدي کښـېنول اودکابل دسرواوسپینو خاوندان ئي ګرزولي و، دافغانستان په کورنیو چاروکي په لاس وهنه متهم کړ.

داتهاماتو لړي دومره پراخه شوه چي دپاکستان دصوبه سرحد په سیمه کي دګوچنیانو دیوه سرویس ترټېښتولو اوبیا په کابل کي دپاکستان دسفارتخاني په تخریبولو اودپاکستان دبیرغ ترسوځولو پوري ورسیده .

هند او روسیي چي دپاکستان سره دپخوانه په پوره غځووبي کي شپي تیروي اوبیا دروسیي سرو برغلګرولښکرو په خلاف افغان ولس سره دپاکستان دملت اوحکومت بیدریغه کومک اوهلته دروسیي ځواکونو دولت نه دکي ماتي ، دوارو هیوادونه ښه فرصت په لاس کي ورکړ چي دکابل واکدارانوته دپاکستان سره ددښمني په مقابل کي ویرامتیازوورکړي اوهغه امتیازهمداوو چي بیدریغه بانک نوټونه بي حسابه جنګي افزاراووسایل دکابل دغه ائتلافي اداري ته چي دیوي سکتاریستي ولي دعقدو اوتعصب په بنسټ ئي اساس ښودلی ، وروسپاري اودادهنداوروس ناڅاپي اواحساساتي پریکړه نه وه بلکه روسانو هماغه وخت چي په افغانستان کي خپلي پښي ترلژلي ولیدلي او ددغه دلالي څخه ځان وباسي نوهماغه وخت ئي داحمدشاه مسعود په تربیه اوسلح کیدو کي ونډه واخیسته دهغه اسنادوله مخي چي همدااوس اوس د KGB لـه سرچینوڅخه په اروپا اوامریکاکي خپاره شوي هغوي په دي اقرارکړي چي احمدشاه مسعود د۱۹۸۱ کال داوربند دتړون څخه وروسته ددري میاشتو له پاره روسي ته د KGB ترڅواستول شوي اودتربیي وروسته بیرته دمجاهدینوپه خلاف دمجاهد په لباس کي افغانستان ته لیږل شوي . همدا مهال وچي روسانو دخپل ماتي خوړلي فوځ دبېرته شاکیدو وروسته پلان درلود چي په کابل کي واکمني احمدشاه مسعود اوهغه سکتاریستي ګروپ ته وسپاري دغه موضوع دکمونستانو دوخت د[illegible] واکترحسن شرق دخپلي لیکني په ۹۸ مخ کي په ګوته کړي اووایي [illegible] چي کله زه دګورباچوف سره [illegible] کښیناستم نوراته ئي وویل چي [illegible] واکمني باید مسعودته وسپارل شي خوروسانو چي کله خپله پوځي ماتي ومنله نوپه داسي حال کي چي [illegible] اقتصادي وکوه سره مخ وخوښ ئي هم دخپل راتلونکي په خاطردکابل دکمونست

دریم مخ

درحاشیه پنجاهمین سالروز بمباردمان اتومی جاپان

احمد ضیا "رحیمزی"

روزگذشته (ششم اگست ۱۹۹۵) مردم جاپان وهمه جهانیان صلح دوست، پنجاهمین سالروز بمباردمان اتومي امریکا برشهرهاي هیروشیماوناگاساکي کشورجاپان در جنگ دوم جهاني را تجلیل نمودند . طي این مراسم مقامات جاپان ازهمه کشورهاي داراي نیروي اتومي تقاضا بعمل آورد تااز تجربیات اتومي دست کشیده ودرقسمت خلع سلاح اتومي از روي کره زمین تلاش به خرج دهند .

ولي اینکه چه کسي این تقاضارامي پذیرد وواقعاً بخاطرفلاح ورستګاري بشریت آزرده وخسته ازجنګ وخون ریزي ازتجربیات اتومي دست بردارمي شود ، ویااینکه تقاضا کنندگان این قضیه تاچه حد خود درکردار وگفتار خودصادق اند، سوالیست که جواب آن به بحث طولاني ضرورت دارد .

به هرصورت طوریکه یاد آورشدیم پنجاه سال قبل درششم اگست سال ۱۹٤۵ میلادي حوالي ساعات هشت وپانزده صبح طیاره بمب افگن نوع (۲۹ – B) امریکا اولین بمب اتومي رابرشهر هیروشیماي جاپان که درآن هنگام تقریباً (۳۰۰) هزار تن نفوس داشت فرود آورد .

امریکا ومتحدینش درجنگ دوم جهاني تاحال هم ادعادارند که به گفته ایشان جهت خاتمه دادن به آن جنگ هولناک استعمال بمب اتومي ضروري بود . درحالیکه نمي توان این ادعا راپذیرفت ، زیرا حقایق خلاف آنچه امریکا ومتحدینش مي گویند جلوه مي کند .

هنگامیکه طیاره امریکایي اولین بمب اتومي را برهیروشیما فرود آورد نیروهاي آلمان نازي شکست خورده وبه زانو درآمده بودند ونیروهاي متحدین باتصرف شهرهاي مهم آلمان وزیر پانمودن آن بشدت به سوي «برلین » پیش قدمي داشتند .

همچنان جهانیان معتقداندکه جاپان بعداز شکست آلمان وقتل هتلرنمي توانست بیشتر ازاین مقاومت کند وشاید هم یک هفته بعد، بدون استعمال بمب اتومي امپراطورجاپان سرتسلیم برآستانه امریکا ومتحدینش که ازدنبال نمودن جنگ آرزو وهدفي هم جزهمین نداشتند فرود مي آورد

ولي امریکا ومتحدینش که نمي خواستند کوچکترین اشتباهي را درزمینه شکست دادن به آلمان وجاپان مرتکب شوند، مرتکب بزرگترین جنایت وفجیعه درتاریخ بشریت گردیدند .

واگر احیاناً بپذیریم (اگرچه قابل پذیرش نیست) که امریکا حق داشت تا جاي هیچ گونه شک وتردیدي رادرمورد شکست جاپان بجانگذارد ولازم بود تاامریکا برهیروشیما بمب اتومي بریزد، وطوریکه «ترومن» رئیس جمهورآن وقت امریکا ادعاکرده بود براي خاتمه دادن به جنگ تباه کن جهاني چاره بي جز استعمال بمب اتومي برهیروشیما وجودنداشت ، آیا آفتي راکه بمباردمان هیروشیما ببارآورده بود، براي شکستاندن امپراطوري جاپان کفایت نمي کرد ؟ و آیا لزومي داشت تا باردیگرطیاره بمب افگن امریکا شهره ناگاساکي » راهم هدف بمبارد اتومي قراردهد ؟

امروز پنجاه سال ازو" استعمال بمب اتومي برشهرهاي جاپان مي گذرد ، ولي مردم مصیبت زده هیروشیما ، ناگاساکي واطراف آن هنوزهم ازاثرات مخرش این تحفه گرانبهاي امریکاومتحدین ان درجنگ جهاني دوم درامان نیستند !

بمبي که درظرف چندثانیه (۱٤۰) هزار نفر ازنفوس (۳۰۰) هزارنفري هیروشیمارا هلاک ساخت و (۱۱۰) هزارتن دیگر نسبت اثرات زهري آن درمدت شش ماه دیگربه شکل تدریجي به هلاکت رسیدند ،واثرات زهري آن تاچندین نسل برمردم هیروشیما وناگاساکي هویدا بود !

جنرال «پال تبتس » پیلوت طیاره بمب افگن امریکا که شهرهیروشیماي جاپان را بمباردمان اتومي کرد، حکایت مي کند: وقتي بعدازپرتاب بمب عقب خودرا نگاه کردیم، شهردرابر سیاهي متشکل ازدود وآتش پوشیده شده بود، زمین درحال جوشیدن به نظر مي رسید وازرمین تاکناره هاي آسمان را آتش فراگرفته بود وبراي یک لحظه خاموشي مطلق درهرجا حاکم بود

چه وحشتناک حکایتي است وچه وحشتناک اند کساني که مرتکب این چنین جنایت شدند، آنانیکه (به زعم خود)خودرا مستحق قیادت جهان مي خوانند، وآنانیکه ادعاي حفظ حقوق بشر رادارند و کشورهاي جهان را بنام حمایت ازتروریزم وخلاف ورزي ازحقوق بشر تهدید مي کنند، آیامي توان جنایت وتروریزم بزرگتروبرترازاین را تصورکرد؟

وازهمه جالب اینست که در۶ اگست ۱۹٤۵ درهمان لحظاتیکه مردم فلاکت زده هیروشیما در دود وآتش غضب بمب اتومي هدیه امریکا و متحدینش مي سوختند ومي تپیند « ترومن»

رئیس جمهور آن وقت امریکا درقصرسفید ومقرفرماندهي اش نشسته فلم کمیدي راتماشاداشت وچنان به شدت مي خندید که صداي قهقه وي درچهاراطراف قصرمي پیچید !

امروز باگذشت (۵۰) سال ازبمباردمان اتومي جاپان توسط امریکاومتحدین ،باردیگر جهان شاهد چیره دستي همان زورگویي همان نیروهایي است که باعث بوجود آمدن فاجعه مصیبت برانگیز هیروشیما وناگاساکي شدند

ص (۳)

زاد روز خجسته حضرت خاتم الانبیاء را چگونه گرامی بداریم !

تمیم

انگشتهای نحیف ولرزان مهاجری به آهستگی وانفعال درگلوی خامه آویخته وتمنا دارد ازرشحات آن چیزی پدیدار گشته وبر روی صفحه بنشیند که حد اقل شایستگی مدحت آن شخصیتی را داشته باشد که دیهیم قافله سالاری طایفه انبیا - علیهم السلام را بر تارك خویش دارد .

این بنده برگزیده خدا(ج) هیچ نیازی به ستایش مانداره والحق که ما هم توانایی واستعداد توصیف وتمجید مقام شامخ وشخصیت ممتاز او (ص) را در خود نمی یابیم زیرا او (محمد صلی الله علیه وسلم) ممدوح آفریدگار است ومعلوم است که ممدوح آفریدگار، احتیاجی به ستودن دیگران ندارد .

بهر تقدیر ، چون خداوند حکیم خواست برینده گان رحمت آرد ، دربحبوحه یك ظلمت فراگیر اعتقادی واجتماعی واخلاقی ! دیدگان بی نور مشرق نشینان رابا نوید بعثت یگانه برگزیده اش محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) بینش جاودانه بخشید که تا فراسوی ابدیت درروشنایی بیمثال آن گام بردارند وخلاف وساوس اهریمنان جن وانس ، سرعبودیت را در آستان عالی مکان آفریدگار یگانه بسایند .

از همین جهت خداوند سبحانه وتعالی او (ص) رارحمت للعالمین خواند وچرا رحمت مرعالمیان را نباشد ؟!

همه میدانیم که تمام مردم وحتی برخی از ذوات ونخبه گان پس ازبعثت ،همان بت پرستانی بودند که قمار ، شراب ، آدم کشی ، سرقت وقطاع الطریقی ،نفرت وعار از وجود زنان وزنده بگور ساختن دختران بیگناه با وحشتی که درنده ترین حیوان هم از آن بیزار است ، ازعادات فخر آمیز وغرور آفرین ایشان بود . خداوند منان چون خواست برهمچویك طایفه گم کرده راه ببخشاید ، بناء" محمد مصطفی " صلی الله علیه وسلم " راوسیله گردانید . اسوه حسنه اش خواند وراه وشریعت او (ص) راآفرین وکاملترین منهج به سوی صلاح دنیوی وفلاح اخروی قرارداد وطبقات مختلف مردم ازنزدیك ودور تعلیمات او را پذیرفته وفروغ ابدی در دل شان تابید .

بنابر این ، جادارد وبسیار زیبنده وزیباست که خاطره زاد روز خجسته اینچنین یك مقتدای برگزیده را بابهترین طریقه واسلوب ، گرامی بداریم .

اما باید دانست که گرامی داشتن میلاد پیامبرعلیه السلام در قالب چند عبارت رنگین وهموارکردن صفره غذا های بوقلمون ، منحصر نمیباشد .

بلکه می باید سخت دقت کنیم ونیکو بیندیشیم تامراضی حق جل وعلی شانه وشادمانی روحانیت فرستاده اومحمد (ص) را ، درکردار و پندارمان جستجو کنیم .

پریشانی وسیه روزی امروزین ماحاصل آنست که فقط درظاهر روی به تشریف وتقدیس آورده ایم ، درحالیکه ضمیروخمیر ما از آنچه میگوییم ومی ستاییم ، کاملاً مبراست .

آیا اینهمه جنگ وکشتاریکه بصورت پایان نا پذیر درمیهن بخون آغشته ماجریان دارد ، از دستورات دین اسلام است ، یا از عصیان وگمراهی ماسرچشمه میگیرد ؟!

واضحاً ما همان طایفه گم کرده راهیم که اگر بخود نیاییم وکشتی طوفانی را که روی آن نشسته ایم و هرلحظه باموج متلاطم تازه ومدهشی رو در رو میشود ؛ به سوی ساحل نجات نه کشیم ، بالضرور در انتظار هلاکت محتوم ، لحظه شماری کنیم .

چه کسی میتواند که نفاق وبرادر کشی های امروزین افغانیان را صبغه شرعی بدهد !؟

پس ، اگر ما که درگیر چنین ستیز وآویزش بجان همدیگر هستیم ، آیا گرامی داشتهای ما ازخاطره زاد روز پیامبر علیه الصلواة میتواند ،اسباب رحمتی برایمان گردد !؟

و آیا همسایگان ویه طورمجموع اهل جهان برچنین یك احتفالات ما با دیده شبه آلود نگاه نخواهند کرد !؟

لهذا ،ای آنانیکه توانایی افروختن آتش جنگ رادارید ، حتماً استعداد خاموش گردانیدن این نایره تیزدرشماهست ! پس ، اگربخاطر ملت درخون خفته ازسنگرودشمنی برنمی خیزید، برای خدا جل جلاله وبرای رسول او (ص) که درآستانه میلاد فرخنده اش قرار داریم . دست از دشمنی بردارید ومیهن خو درا که پرستشگاه پروردگارتان است ، یکبار دیگر جایگاه دشمنان خدا نگردانید .

والسلام .

ددښمنانو هڅې اودحساس ویښتابه ضرورت !

اکبری

ددښمنوهیوادونو اوشیطاني حلقو هڅه داده چي څنگه کولاي شي دروسي له رسواماتي اوددغي ستري امپراتوري له درې ورې کیدو وروسته تاریخي افغانستان اوویاړلي ملت یې توټې توټې او وروته ملیتونه یودبل پروړنو ماره کړي . څکه دیومتحد اوتاریخي افغانستان موجودیت ، نه یوازې دنړیوال استکبارپه سترگوکې اغزي دي بلکې دځینوشیطاني حلقو لپاره هم دزغم نه دي له همدي امله نن ددغه " تاریخي هیواد دتجزیي په خاطرڅه په بین المللي اوڅه دسیمي اومنطقي په کچ دهر دول لاسوهني ،تبلیغاتو اومداخلي " ناجایزي هڅي پکاراچول شوي دي موږدامنو چي نه دنړیوال استکبار اونه دسیمي اومنطقي ځیني هیوادونه اوحلقي دیومضبوط ، مستقل اومستقرافغانستان طرفدارنه بلکي دهغه وخت اومهال په انتظاردي چي کله به ددغه هیواد دټوټه کیدو اودملت دورکیدو اوناپودي غزترغوږو ورورسیږي څکه همدااوس لویدیزي رسنې دخپلو شیطاني نشریاتو له لارې په زهروککړو دغوتبلیغاتو پراختیا ورکړې څوزموږ دهیواد دورونو ملیتونو ترمنځ دتفرقي انگیزه راپورته کړي، په دومره کچ لاسوهنه اوبیا زموږدهیوادوملت موجودیت ،یووالي اوپه خپل حال پاته کیدل به لکه څنگه چي به ځینوخلکوویل که دمؤمنوتش لاسوافغانانو په ایماني قوت اوهوډ روس ماتې وخوړي نودابه ددې وخت یوه لویه معجزه وي نوموږوایوچي ددومره لاسوهنو، مستقیمومداخلو، تړپردي لاندي دي دول ځېرو اودسیسو درامنځته کولو سره سره که زموږهیواد اوملت په خپل تاریخي حالت اوموجودیت پاته شي نودابه زموږدملت دنیك فال اوسعادت دوهمه ستره معجزه وي .

